SHARIAT
# شریعت
اوونیزه
په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
پنځم کال ۷۷ گڼه پرله پسې (۳٦٤) شنبه د۱٤۲۱ هـ ق کال د رجب المرجب (۲٤)
د۱۳۷۹ هـ ش کال د تلې دمیاشتې (۳۰) د۲۰۰۰ میلادي کال د اکتوبر (۲۱)

## الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !، همدا (عدل) دیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

درمربوطات ولسوالي خواجه غار ولایت تخار :

## یك تعرض ناكام مخالفین با شکست مواجه گردید

### دراین تعرض تعدادي از آنها به امارت اردوي اسلامي در آمدند

تخار- باختر :
مخالفین امارت اسلامي افغانستان پریشب بر مواضع و استحکامات مجاهدین اردوي اسلامي در مربوطات ولسوالي خواجه غار ولایت تخار دست به یك تعرض ناكام زدند.
مخالفین امارت اسلامي افغانستان كه بخاطر انجام این تعرض وسیع امكانات فراوان از باداران خارجي شان تدارك نموده بودند پریشب بر مواضع و استحكامات مجاهدین اردوي اسلامي در مربوطات ولسوالي خواجه غار ولایت تخار حمله نمودند كه بیاري و نصرت خداوندي در اثر رشادت و پایمردي مجاهدین اردوي اسلامي این تعرض دشمن در نخستین لحظات آغاز سركوب و عقب زده شد و بر ص ٤

له هیواد څخه بهر ته د امارتي چارواکو په سفر د لگول شویو بندیزونو په اړه :

# فرانسي له امریکا او روسیې سره مخالفت څرگند کړ

ددغو بندیزونو ناوړه اغیزې د افغانستان عامو خلکو ته متوجه دي (د افغانستان لپاره فرانسوي شارژدافیر ښاغلی بختول)

د افغانستان اسلامي امارت د نړۍ له ټولو هیوادونو سره د ښو اړیکو غوښتونکې دی

## په افغانستان کې د سراسري سولې تامین د ټولې نړۍ په گټه دی

اسلام آباد - باختر :
تیره ورځ په اسلام اباد کې د افغانستان د اسلامي امارت سفیر محترم مولوي عبدالسلام ضعیف د افغانستان لپاره د فرانسې د هیواد له شارژدافیر ښاغلي بختول سره وکتل.
په دې کتنه کې په اړوندو موضوعاتو بحث او خبرې وشوې، ددغو خبرو موضوع افغانستان ، همدارنگه ٤ مخ

## هیئت ستره محکمه به ولایات شمال اعزام گردید

شریعت : هیئت عالي رتبه ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان جهت بازدید و بررسي محاکم ولایات فاریاب، سمنگان، بغلان، کندز و تخار و محاکم همه ولسوالي هاي آن ولایات اعزام گردیدند .
هیئت بلند پایه ستره محکمه تحت سرپرستي محترم مولوي میر حبیب آغا مشاور حقوقي مقام ستره محکمه غرض بازدید و بررسي همه جانبه محاکم ولایات فاریاب، ص ٤

## ا.ا.ا در رابطه به محو و نابودي مواد مخدر تلاشهاي وسیعي را به راه انداخته است

### زنان افغان نسبت به هر وقت دیگر از مصؤنیت و عزت کامل برخوردارند

از اظهارات نطاق وزارت امور خارجه ا.ا.ا

کابل - باختر
اظهارات نطاق وزارت امور خارجه ا.ا.ا در رابطه به دیدار معین وزارت خارجه امریكا با همتاي روسي اش كه در مورد شدت تعزیرات بالاي مردم افغانستان صورت ص ٤

## سفیر ا.ا.ا مقیم اسلام آباد با سفیر فلسطین ملاقات نمود

محترم ملا عبدالسلام ضعیف سفیر امارت اسلامي افغانستان در اسلام آباد پریروز با محترم احمد عبدالرزاق السلمان سفیر فلسطین مقیم اسلام آباد در مقر آن سفارت ملاقات نمود.
دراین ملاقات تعارفي محترم سفیر ا.ا.ا در حالیکه محترم حبیب الله فوزي معاون سفارت هم حاضر بودند در رابطه به ص ٤

د روان کال په بهیر کې :

## د خصوصي سکتور د ترانسپورت په عوایدو کې دوه ملیارده افغانۍ زیاتوالی راغلی دی

کابل - باختر :
د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تیر کال د همدې مودې په پرتله د خصوصي سکتور د ترانسپورت د ریاست په عایدو کې څه د پاسه دوه ملیارده افغانۍ زیاتوالی راغلی دی. ٤ مخ

د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر کاملوف:

## د ښه نیت له امله به د حیرتان پل بیا پرانیزو

### مونږ په دې هڅه کې یو چې له اسلامي امارت سره خپل روابط نور هم ښه کړو

تاشکند : نړیوالې خبرې سرچینې :
د ازبکستان جمهوریت له افغانستان سره په پوله د حیرتان د لوی پله په بیا پرانیستنه غور کوي. ٤ مخ

د ملگرو ملتونو سازمان د بشر د حقوقو کمیسیون :

## پر فلسطینیانو باندې اسرائیلي مظالم وغندل

د ملگرو ملتو د سازمان د بشر د حقوقو کمیسیون په اسرائیلو باندې د فلسطین په نیول شویو ځمکو کې د وروستي تاوتریخوالي له امله سخت انتقاد کړی دی او په دې اړوند یې د نړیوالو ځینو غوښتنه کړیده .
د امریکا غږ رادیو د خبر له مخې ددغه ٤ مخ

## د ده سبز ولسوالۍ د جامع مسجد د اعمار کار بشپړ شو

کابل - باختر :
د یو جامع جومات د جوړولو کار چې پخوا د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ د تره خیلو په کلي کې پیل شوی و په دې وروستیو وختو کې بشپړ او د لمونځ کوونکو د استفادې وړ وگرځید .
دغه جومات چې د تره خیلو د کلي د دیندارو خلکو په همکارۍ د یو زرو پنځه سوو لکه افغانیو په لگښت په یو پوړ کې په پاخه او اساسي ډول ٤ مخ

له لس کلنې کورنۍ جگړې وروسته :

## په صومالیا کې مرکزي حکومت جوړ شو

د صومالي په هیواد کې له لس کلنې کورنۍ جگړې وروسته د دغه هیواد لومړنۍ حکومت پرون جوړ شو.
د صومالي د نوي کابینې غړو چې د ویشت تنه وزیران پکې گډون لري پرون د دغه هیواد د جمهور رئیس عبدالقاسم سلاد ٤ مخ

## یك مقدار مواد کمکي توزیع گردید

بالاي بیجا شده گان تخار، نهرین و اشکمش:

براي چهار صدو هشتاد فامیل از بیجا شده گان مناطق مربوط تخار نهرین و اشکمش یکمقدار مواد کمکي از طریق کمیشنري عالي سازمان ملل متحد بروز چهارشنبي گذشته توزیع گردیده است .
مواد متذکره که شامل شش هزار تخته کمپل یکهزار تخته فرش و پلاستیك میباشد تحت نظر نماینده اداره تنها و مهاجرین و کمیشنري عالي سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان مقیم در شهر پلخمري بفامیل هاي مستحق توزیع گردید.

## تدویر جلسه نمایندگان موسسات بین المللی در دفتر مرکزی سره میاشت

کابل - باختر :
به گرامیداشت از هفته مخصوص سره میاشت جلسه یی به اشتراك نماینده گان موسسات خیریه بین المللی پریروز در مقر جمعیت عالي افغاني سره میاشت تدویر یافت.
دراین جلسه بر علاوه نماینده گان موسسات خیریه بین المللی آی سی آر سی ، فدراسیون بین المللی جمعیت هاي ملی ممالك موسسه اکبر، نوداي کشور جاپان ، موسسه آسیا و عده یی از نماینده گان انجو ها اشتراك داشتند ابتدا محترم ص ٤

## حکم الهي قصاص تطبیق گردید

در ولایت کندز بالاي یك تن قاتل :

کندز - باختر :
حکم اهی قصاص دیروز بالاي یکتن قاتل در محضر صد ها تن از هموطنان ما در چمن ښاروالي کندز تطبیق گردید.
اسامي نجیب الله فرزند عبدالغفار مسکونه قریه حقتاش ولسوالي خان اباد ولایت کندز که یکسال قبل اسامي قوماندان حبیب الله همدرد را به قتل رسانیده بود توسط موظفین قوماندانی امنیه ولسوالي خان اباد دستگیر و قاتل در برابر هیأت موظف قضایي محکمه نظامي به جرم جرم ص ٤

انگلستان او جرمني له شمالي کوریا سره :

## ډیپلوماتیکي اړیکي پیل کړې

د انگلستان او المان هیوادونو له شمالي کوریا سره دډیپلوماتیکې اړیکو د ټینگولو په اړه یو لړ اقدامات پیل کړي دي.
د بي بي سي راډیو د خبر له مخې د انگلستان د بهرنیو چارو وزیر رابین کوک د شمالي کوریا په وړاندې د خپل هیواد نوې دریځ پرون په داسې حال کې اعلام کړ چې د اسیایي او اروپایي هیوادونو د مشرانو دوه ورځنۍ ٤ مخ

مجمع عمومي سازمان ملل متحد:

## بحران شرق میانه را مورد بررسي قرار داد

مجمع عمومي سازمان ملل متحد طی اولین جلسه خاص خود در نیو یارك بحران اخیر شرق میانه را مورد بحث و بررسي قرار دادند.
به گزارش اژانس خبری دی پی آ مجمع عمومي سازمان ملل متحد نظر به درخواست کشور هاي عربي بحران اخیر شرق میانه را مورد بحث قرار داده است.
از طرف دیگر کمیسیون حقوق بشر سازمان ملل متحد نیز در ژنیو عملیات اخیر نظامي قواي متجاوز صهیونیستي را بر علیه مردم مسلمان فلسطین مورد بحث و بررسي قرار داده است. ص ٤

یك واحد نظامي رژیم صهیونیستي :

## از علامه سرحدي تخلف صریح کرد

بگزارش آژانس خبري ایرنا یك واحد نظامي رژیم صهیونیستي پریروز از خط آبي رنگ سازمان ملل متحد واقع در سرحد لبنان عبور نموده و از علامه سرحدي تخلف صریح کرد.
بلسا س گزارش مذکور رژیم صهیونیستي بادامه تخلفات سرحدي خود سیم هاي خاردار را از خطوط سرحدي با لبنان برداشته و عوض چراغ هاي سرخ را در داخل خاك لبنان نصب کرده است.
بعد از اینکه عساکر متجاوز رژیم صهیونیستي از جنوب لبنان پا به فرار ص ٤

## سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

### روسیه او امریکا د نړۍ والو د بدگومانه کولو هڅې کوي

درې ورځې مخکې د امریکې د بهرنیو چارو وزارت مرستیال تامس پکرنگ بو ځل بیا د دوی په وینا د افغانستان په هکله د نړۍ والو اندیښنو د ځینو لپاره له روسي مشرانو سره د خبرو اترو لپاره مسکو ته راغلی و د سلا مشورو نه وروسته یې په گډه د افغانستان په هکله یوه اعلامیه صادره کړه چې بیا هم هماغه زړې خبرې پکې تکرار شوې وې او ټینگار یې کړی و چې په هر صورت افغانستان ټولې نړۍ او په ځانگړې ډول د منځنۍ ۲ مخ

# شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسوول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پوسټ بکس : (٤۷۱۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه


## د سرمقالې پاتې برخه

آسیا هیوادو ته د نشه یي توکو او تروریزم د صدور له پلوه سخت ګواښونه پیښ کړي دي . دروسیې او امریکا دغه خبرې اترې چې په لوړه کچه وې خو که سړی یې د یوه مشترک ګام اخیستلو په هکله پریکړه لیک ته ځیر شي نو تر ډېره بریده نرم او نور مال بریښي او له ورایه دا په ډاګه کوي چې د دوی دا ډول لیدنې کتنې او مشورې یواځې او یواځې د نړۍ والو اذهانو د غولولو او د افغانستان په باره کې د هغوی د بدګومانه کولو لپاره دي اوبس .

روسیه او امریکا چې په سیمه کې ځانګړي اقتصادي او سیاسي موخې لري تل هڅه کوي چې د مخدره موادو او تروریزم په یادولو سره نړۍ والو ته اندیښنې ور واچوي، له افغانانو سره د نړۍ والو د اړیکو مخه ونیسي او په دې ډول په سیمه کې چې هر یوه یې پریمانه اقتصادي زیرمو ته سترګې پټې کړي، د سولې او ثبات ګډوډولو ته لاره هواره کړي پلوي لړ کې روسان په ځانګړي ډول د منځنۍ آسیا د استحکام نه سخته ویره لري او د خپلو ټولو سیاسي او اقتصادي ګټو لپاره یې لوی خطر بولي چې له همدې کبله شپه ورځ د یې ځایه ویرولو په هڅو کې لګیا دي که څه هم د ترکمنستان مشرانو او حتی د ازبکستان ولس مشرکریموف د روسانو د نیتونو په هکله ډاګیزه کړې ده چې له افغانستانه دومره خطر نه دی ورته پیښ لکه څنګه چې روسان وایي، بلکې روسان خپل اهداف لري او دا دې اوس فرانسې هم څرګنده کړې چې د افغانستان په اړه د روس او امریکې سره موافقه نه لري او د بندیزونو مخالفت کوي . خو بیا هم روسان لا هماغسې خپلو خبرو ته اړم دي چې منځنۍ آسیا ته له افغانستانه خطر ور پیښ دی امریکا هم د افغانستان او سیمې طبیعي زیرمو او خصوصاً د یو رانیومو ، تیلو او ګاز د زیرمو په سوچو کې ده او هڅه کوي چې په یو ډول دلته خپلې منګولې ښخې او ځان برخمن کړي نو دهمدغو او ځینو نورو سیاسي موخو لپاره یې دومره شور زوګ پیل کړی او هرې خواته منډې تړې وهي خو حقیقت دا دی چې د افغانستان اسلامي امارت له خپلو ټولو ګاونډیانو سره ډېرې ښې اړیکې غواړي، په دې لار کې سره دلاسه هم څه ستونزې نه لري او ټولو ته یې بشپړ ډاډ هم ورکوي له امریکې سره هم د ستونزو په حل کې تل خبرو اترو ته چمتو والی لري خو دا چې امریکې ډېره کبرجنه پالیسي غوره کړې او دستونزو حل یواځې د خپلو متکبرانه فرمایشونو په عملي کولو سره غواړي نودا کار اصلاً د خبرو اترو معنا نه لري پاتې شوه د مخدره موادو موضوع نو په دې هکله هم ګرد نړۍ وال د افغانانو جګړه ځپلي هیواد او پریمانه اقتصادي ناچارۍ وینې او دا چې سره له دې ټولو ستونزو بیا هم اسلامي امارت د کوکنارو او بنګو د کرنې بشپړ بندیز اعلان کړی او شپه ورځ په دې اړه غونډې جوړ وي، خپروني کوي او کروند ګر متبادلې کرنې ته رابولي خو له بده مرغه په دې باره کې د ملګرو ملتو او نورو هغو هیوادو چې ډېرې ناري سورې وهي سوړ غبرګون سړی ته دا شک ور اچوي چې دوی به رښتیا هم د مخدره موادو د کنټرول پلوي کوي نو په دې اساس وېلای شو چې د روس او امریکې دا ډول اعلامیې او سلا مشورې هیڅکله هم د نړۍ والو اندیښنو او یا د افغانستان له خوا د تروریزم د ګواښونو د مخنیوي لپاره نه بلکې د خپلو ځانګړو غرضو نو لپاره دي چې باید د منځنۍ اسیا او سیمې نور هیوادونه په ښه ډول وریاندې پوه او په داسې اقداماتو لاس پورې کړي چې خپله ودانۍ او ښېرازي یې تضمین کړي د افغانستان اسلامي امارت یو ځل بیا د مخدره موادو د بندیز په هکله خپله وعده تکراروي او دا چې په دې برخه کې به د ټولو ستونزو سره سره مبارزه کوي. همدارنګه تروریزم او د نورو په کورنیو چارو کې لاس وهنې په کلکه غندي او د متقابل درناوي په بنسټ له ټولو هیوادو سره د دوستۍ او ښو اړیکو غوښتنه کوي.

## زموږ په اسلامي هیواد افغانستان کې د ماشیني صنایعو رول ته یو کتنه!

ناصر شه سرحدي

زموږ ګران هیواد، افغانستان د پر مخ تلونکو هیوادونو د فهرست په وروستي لیکه کښې قرار لري، صنعتي اقتصاد یې د نورو پر مختلونکو هیوادونو په شان د سترو صنعتي هیوادونو، تر نېغې اغېزې لاندې دی لکه چې لېدل کېږي، ددې هیوادونو ماشیني صنایع په لاندې توګه د پرمختګ او انکشاف پړاوو نه تېروي:

د پرمختګ په حال کې هیوادونو کې پانګه د کار خانې او فابریکې په ښه اچول کېږي، چې له دې درکه زیاته ګټه تر لاسه کوي ځکه دغه هیوادونه تل د دوی په منګولو کې ښکیل وي او یابې د خپلو هدفونو د دوام لپاره، مصئونیت او سیاسي امنیت په خپله ګټه را منځ ته کوي، هغه ګټې چې سترو صنعتي هیوادونو ته ددې لارې رسېږي دا دي:

الف - د اومو، موادو منابع په ډېره ارزانه بیه په دې هیوادونو کې برابرېږي.

ب - په دې هیوادونو کې مزدوران ډېر او په ارزانه بیه کارته ګمارل کېږي.

ج - د اومو، اوپخو، موادو د وړلو، راوړلو د لګښتونو له منځه تلل په دې مانا چې د نړۍ د صنعتي هیوادونو په لومړي سر کې اومه، مواد د ډیرو اوږدو، لارو له، وروسته پاتې هیوادونو څخه خپلو هیوادونو ته راواردول او په خپلو تولیدي فابریکو او کارخانو کې یې په صنعتي موادو بدلول او بیایې وروسته پاتې هیوادونو ته صادرول، او په دې ډول د موادو د لېږدونې لګښتونه او مصرفونه لویدل، کله یې چې د فابریکې په شکل پانګه صادره کړه، د موادو، دلېږدونې زیات لګښتونه له منځه لاړل د ګټې اخستنې دا ښې په نیغه او مستقیمه توګه زموږ په هیواد کې نه دي تر سره شوي ځکه زموږ په هیواد کې د استفادې وړ پریمانه سرچینې لکه : د منځني ختیځ، وینزویلا او نورو صنعتي هیوادونو نفتي منابع او د پټرولو سرچینې چې د نړۍ په ډیرو ځایونو کې پیدا کېږي. وجود نه درلود چې د نړۍ شتمنو هیوادونو هغو ته سترګې نیولې وي او په دې ډول یې خپل استعماري هدفونه په خلکو تطبیق کړي ولې.

په همدې توګه یو بل تاریخي او ټولنیز عامل لکه د خلکو ازاد منشي، زړه ورتیا او میړانې د استعمار لاسونه د هیواد څخه لنډ کړي و او پرې یې نښودل چې د انحصاري پانګوالې اقتصادي فعالیت زموږ په اسلامي هیواد کې نفوذ وکړي د هیواد په بیلا بیلو ولایتونو کې د حکومت له خوا په دولتي پانګه د ماشینونو او سامان آلاتو په کار اچول د فوق العاده مناسبو او ګټورو اقداماتو څخه ګڼل کېږي چې د هیواد، د صنعتي اقتصاد په پرمختګ کې بې زیاته مرسته کړي.

په اوسني وخت کې د افغانستان د اسلامي امارت د تشویق او هڅونې له امله د هیواد، په ولایتونو کې د ملي سوداګرو او تشبث د خاوندانو له خوا د ماشینونو او تولیدي سامان آلاتو لګول او نصبول د هیواد د صنعتي اقتصادي پرمختیا په لار کې یو ګټور اقدام شمیرل کېږي لکه د پرمختګ په حال هیوادو کې چې ملي پانګوال په آزادانه توګه د صنعتي تولیداتو په کار او فعالیت پیل کوي او په دې توګه د خپل وروسته پاتې هیواد، صنعت او اقتصاد ته وده او پرمختګ ورېخښي.

په څو وروستیو کلونو کې زموږ په اسلامي هیواد کې هم دا ډول اقتصادي فعالیتونو ښه رونق موندلی ملي تجاران او داخلي پانګوال تشویق او هڅول شوي چې د صنعتي انکشاف لاره او شرایط د هیواد په ګټه برابر کړي.

اسلامي امارت او ملي سوداګر په ګډه د ماشینونو او صنعتي وسایلو، پېرودل، واردول او په کار اچول • په هیواد کې د صنعتي اقتصاد د ترویج یوه ښه بیلګه بولي.

لکه چې د هیواد په دننه کې ډیرو پروژو د امارت او ملي پانګوالو د ګډ فعالیت پر اساس د صنعتي موادو د تولیدولو په کار پیل کړېدی او په دې توګه یې په هیواد کې د صنعتي اقتصاد د پرمختګ لاره هواره کړې ده همدارنګه په هیواد کې زموږ د یو ګاونډي اسلامي هیواد پاکستان یو شمیر تجارانو او سوداګرو په مرسته، یو شمیر فابریکې او بیلا بیلې پروژې تر لاس لاندې نیول شویدي چې په هیواد کې د ماشیني صنایعو دودې او انکشاف زیرې ورکوي.

په دې ډول اقتصادي اړیکو او مناسباتو کې دولتونه دوه اساسي موضوعګانې او مفهومونه په نظر کې نیسي :

۱- د بلا عوضه او بې قیدو شرطه مرستو جلب او جذب.

۲- د اوږدې مودې پور او دلړې ګټې اخیستې موضوع

د پرمختګ په حال کې هیوادو پانګوال او د اسلامي هیوادونو، پانګوالو په ګډه سرمایه د دواړو خوا و په خوښه د قانون د مقرراتو سره سم د تولیدي او استخراجي ماشین الاتو نصبول ددې ډول پانګې اچونې نمونه چې د اقتصادي فعالیتونو مهم اړخ تشکیلوي هم زموږ په اسلامي هیواد کې لیدل کېږي . او په دې ډول د نړۍ په پرمخ تلونکو هیوادونو کې د تولیدي فابریکو په ډول پانګه اچونه د نومړو هیوادو د پرمختګ سبب ګرځي .

## ازبکستان در آستانه برافراشتن واقعی لوای استقلال

فدراسیون روسیه که بعد از سقوط و تجزیه امپراطوري سوسیال امپریالیزم سرخ بر مسند میراث هاي شوروي سابق تکیه زد با آنکه درس هاي عبرتناکی از نتایج استثمار و تجاوز بر دیگران را شنیده و دیده بود باز هم دو پارا در یک موزه نموده و پلان هاي عجیب و غریبی را بمنظور استفاده از ثروت هاي سرشار طبیعي و موقعیت هاي مهم ستراتیژیکي جمهوریت هاي تازه بنیاد آسیاي میانه و غیره ممالك اطراف خود طرح وزیر دست گرفت از یك جانب با تشکیل اتحادیه کشور هاي مشترك المنافع با استفاده از قوت و مقام خود در این اتحادیه، بال هاي انحصارات ظالمانه خود را بر تمامي منابع و حاصلات اقتصادي کشور هاي عضو گسترده نگهداشته و از جانب دیگر با تخویف میان تهي ممالك آسیاي میانه از «خطرات و حملات» ممالك همجوار آنها را مجبور ساخته تا در یك پیمان مشترك دفاعي و امنیتي با فدراسیون روسیه قرار گرفته تا عندالموقع ارتش سرخ روسیه را به اصطلاح به کمك و دفاع از خود دعوت !! نمایند. بدین ترتیب روسها براي مدت زماني توانستند تا از یکسو محصولات فراوان اقتصادي آسیاي میانه چون نفت و گاز، پنبه، معادن قیمتي و غیره هستي هاي کشور هاي عضو اتحادیه کامنولت را از خود ساخته و جلو معاملات و روابط اقتصادي آزاد آنها را با ممالك مختلفه جهان بگیرد از سوي دیگر براي بیش از بیست و پنج هزار عسکر خود در سرحد بین تاجکستان و کشور عزیز ما افغانستان جاي شب و روز سپري نمودن دریافت نموده و بار گران مصارف آنها را تحت این عنوان که نیرو هاي مذکور از تمامیت ارضي تاجکستان دفاع مینماید برگردن حکومت امام علي رحمانوف تحمیل نماید فدراسیون روسیه در نظر داشت تا از استقرار نیرو هاي خود در سرحدات جنوبي تاجکستان هم حکومت تاجکستان و غیره ممالك همجوار آنرا در کنترول و محاصره نظامي خویش قرار داده و آنها را از روابط با جهان خارج محروم سازد و در پهلوی آن براي اجیران خود در شمال شرق افغانستان یك مرکز اکمالاتي و تسلیحي نزدیك اعمار نموده تا توانسته باشند آتش جنگ را براي مدت زماني طویلي در قسمتي از افغانستان شعله ور نگهداشته و در نتیجه به ملت مجاهد افغان وقت و فرصت آنرا ندهند تا نفس آرام کشیده و با تشکیل یك حکومت قوي مرکزي خواهان غرامات جنگي از فدراسیون روسیه این خلف مکار اتحاد شوروي سابق گردد. روسها در واقعیت امر و در یك تحلیل جامع پلان هاي فوق الذکر را یکي پي دیگر عملي و پیگیري نموده و امید داشتند که روزي آسیاي میانه با منابع بیمثال طبیعي آن از آن فدراسیون روسیه خواهد شد اما خوشبختانه و با افتخار تمام باید گفته شود که از فیوضات جهاد بر حق ملت مجاهد ما نسیم روح پرور آزادي به مشام اکثریت قاطع ملت هاي محکوم جهان رسیده و دیده شد که یکي پي دیگر با براه انداختن قیام هاي ملي و مردمي نظام هاي اجنبي و اجنبي پرست را سرنگون ساخته و سرنوشت خویشرا به دست خود گرفتند گرچه با تشکیل حکومات مستقل در آسیاي میانه باز هم براي مدت زماني روسها توانستند تا با وارونه جلوه دادن حقایق و واقعیت ها ممالك مستقل آسیاي میانه را به دور و پیش خود نگهداشته و آنها را استحصال نماید اما الحمد لله بالاخره اینك این دسیسه و توطئه استعمارگرانه روسیه در آسیاي میانه نیز شکستن گرفته و به تعقیب ترکمنستان اینك ملت میهن دوست ازبکستان نیز با درك حقایق و شناخت واقعي منافع و هستي هاي خویش بر خلاف خواسته هاي تجاوزگرانه روسیه قد علم نموده و لواي استقلال را به گونه واقعي آن بر افراشت گرچه روسها با براه انداختن تبلیغات دروغین به امثال خطرات و تهدیدات تروریزم، تجاوز، قاچاق مواد مخدر و غیره براي آنان زماني جمهوري مستقل ازبکستان را از تحکیم روابط با امارت اسلامي افغانستان که علایق و روابط تاریخي دیني، کلتوري، اقتصادي، نژادي و لساني با مردم آزادي دوست ازبکستان دارد، دور نگهداشته بود اما گذشت زمان و جریان وقایع حکام دور اندیش ازبکستان را به این حقیقت کاملاً آگاه ساخت که ملت هاي همسایه و برادر افغانستان و ازبکستان در طول تاریخ با هم دوست و خیر خواه یکدیگر بوده و این دشمنان و در رأس آنها شوروي سابق و اکنون فدراسیون روسیه است که اوضاع را در منطقه رنگ سیاه داده و منافع خود را از این راه کسب مینماید .

در پرتو همین واقعیت گرایي و دوست و دشمن شناسي برفیران ازبکستان است که اخیراً مقامات حاکم بر آنکشور به خواسته هاي دوستانه و برادرانه امارت اسلامي افغانستان لبیك گفته و بمنظور تحکیم روابط با یك همسایه خیر اندیش و دوست عقیدوي و منطقوي خو و به امید نجات از توطئه ها و استثمار روسیه راه مذاکره، مفاهمه مصالحه و دوستي را با برادران افغان خود در پیش بگیرد اینکه جمهوري ازبکستان اعلام میدارد امارت اسلامي افغانستان به هیچ وجه خطري براي ازبکستان نیست و با حکومت ازبکستان از شمولیت در یك پیمان و اتحادیه مشترك به اصطلاح امنیت و دفاع آسیاي میانه با روسها انکار نموده و در عوض با جمهوري اوکراین که آنها نیز از مداخلات و ثبات شوم روسیه تا بیني رسیده اند در تلاش ایجاد روابط اقتصادي مستقلانه گردیده و بالاخره اینکه آقاي اسلام کریموف اعلام میدارد ازبکستان اکنون بر مسئله به رسمیت شناختن امارت اسلامي افغانستان غور مي نماید همه و همه دلایل و شواهدي است که انشاءالله ممالك مسلمان و مستقل آسیاي میانه اکنون حقایق موجود در منطقه را درك نموده دوست و عدو را شناخته و به گونه واقعي آن آرزو دارند تا مستقل و آزاد باشند سربلند و پر افتخار زندگي کنند و بیش از این در دام تزویر روسهاي متجاوز که بیش از یك قرن مسلمانان آسیاي میانه را استحصال و استعمال نمودند قرار نگیرند امید است به تعقیب جمهوري مستقل ازبکستان ممالك همجوار دیگر آن چون تاجکستان، قرغزستان و قزاقستان نیز هر چه زود تر واقعیت ها را درك نموده و با اخراج روسیه از منطقه ، زندگي آزاد و مستقلانه را نصیب گردیده و به منطقه آسیاي میانه و جنوب آسیا به گونه حقیقي آن ثبات و صلح را فرا خوانده و به ملت هاي خویش شایان خدمت گردند.

داکتر محمد نذیر «احمدزي»

# د بریښنا د لوړ ولتاژ مزیو سره د سرطانی ناروغیو اړیکی

محمد شعیب صافی

ساینس پوهانو ته د دوی د څېړنو په ترڅ کی دا څرګنده شوی چې که د هستوګنی د سیمو د پاسه د زیات ولتاژ لرونکی بریښنا بی مزی تیرشوی وی نو ددغو سیمو داوسیدونکو لپاره په سرطانی ناروغیو د اخته کیدو چانس او امکانات ډیر دی.

ددغو څیړونکو بو مشر وایی چی د بریښنا کوټونو او مزیو ته نږدی سیمو کی باید تر هغو پوری په کور جوړولو ډیز ولګول شی تر څو په دی کله نوری څیړنی نه وی شوی.

د انګلستان د جنوب «بدیغ په «بریسټر» پوهنتون کی سیانس پوهانو ته څرګنده شوی چی د هستوګنی د سیمو له پاسه د زیات ولتاژ لرونکو بریښنایی مزیو شتوالی د هواد ککړتیا سبب ګرځی، وروسته بیا دغه ککړ مواد سرشناک او له سا اخیستو سره د خلکو په سږو کی ځای نیسی.

د څیړونکو د ډلی مشر «پاول دیویت انشاسا» وایی : څیړنی ښیی چی د بریښنا مزی د هغو مضرو او ککړو موادو اندازه زیاتوی چی د انسان بدن ته ورننوزی البته لا نورو څیړنو ته هم اړتیا شته تر څو دا څرګنده شی چی سرطانی ناروغی او بریښنایی مزی یو له بل سره څومره اړیکی لری . له دی وروسته به په هغو سیمو کی چی له پاسه پری د بریښنا د لوړ ولتاژ لرونکی مزی تیر شوی وی د هستوګنی لپاره د کورونو پر جوړولو بندیز ولګول شی. د یادونی وړ ده چی په کیوبا او امریکا کی لا پخوا داسی بندیزونه لګول شوی دی نورو څیړونکو هم ددغو څیړنو پخلی کړی. دوی وایی : د انګلستان په جنوب لویدیځ کی داسی ښکاری چی د بریښنا نږدی ۵۰۰ کیلو متره مزیو د سرطانی ناروغیو چانس په سلو کی ۳۰ زیات کړی.

د بریښنا د زیات ولتاژ لرونکو مزیو او سرطان تر منځ اړیکو باندی له څو کلو راهیسی څیړنی روانی دی تر څو د اروښانه شی چی د بریښنا له مزیو نه را منځ ته شوبو بریښنا یی مقناطیسی ساحو کی په رښتیا هم داسی نښی نښانی شته چی له سرطانی ناروغیو سره اړیکی ولری او که نه ؟

# صحت و زندگی

متصدی صفحه : محمد شعیب صافی

## ابتکار امحاي پوليو يا فلج اطفال

محمد عثمان «سنگين»

چون پوليو مرض انسان ها است و كدام منبع ديگر آن در طبيعت موجود نيست، بناً امحاي آن ممكن است. امحاي پوليو بر چهار ستراتيژي بنايافته است :

١- معافيت دادن روتين اطفال كمتر از يك سال با تطبيق چهار دوز o.P.V

٢- كمپاين هاي كتلوي كه بنام روز هاي واكسيناسيون نيز ياد ميگردند در اين كمپاين ها تمام اطفال كمتر از پنج سال بدون در نظر داشت اينكه آيا قبلاً واكسين شده اند يا خير واكسين ميگردند. ( دو بار در سال )

٣- سرويلانس موثر براي يافتن و تحقيق نمودن هر واقعه جديد فلج نرم حاد در اطفال كه به نام A.F.P ياد ميگردد.

واكسيناسيون خانه به خانه يا كمپاين Mopping up در مراحل نهايي به منظور تطبيق واكسين در تمام اطفال عملي ميگردد.

عقل سليم در بدن سالم است

## زنان باردار و رژيم غذايي لازم

وحيد احمد هارون

زنان حامله بايد در زمان حاملگي حدود ٢٤ پوند بر وزن خود بيفزايند اين وزن بايد با تغذي بهتر و عاقلانه بدست آيد. بايد ياد آور شد، كه اين ٢٤ پوند وزن مربوط وزن جنين نبوده بلكه مربوط وجود مادر ميباشد.

خانمهاي حامله روزانه به مقدار ٣٠٠- ٥٠٠ كالوري انرژي اضافي ضرورت دارند در اين صورت مجموعاً بايد روزانه مقدار ٢٣٠٠-٢٥٠٠ كالوري انرژي دريافت كنند.

علاوتاً رژيم غذاي روزانه يك مادر باردار بايست در گيرنده مواد غذايي و عـ ـر لازمه جهت نمو و تكامل بهتر جنين باشد.

اين عناصر و مواد انرژتيك عبارت اند از : پروتين، آهن، كلسيم، ويتامينها بخصوص ويتامين A.B.C و مايعات .

آهن و پروتينها را مي توان در اين غذا ها به كثرت دريافت كرد. گوشت گوسفند، گوشت گاو ، گوشت مرغ، تخم مرغ، تركاري باب ، حبوبات و چهار مغز.

كلسيم و پروتين در اين غذا ها بيشتر موجود اند. شير ماست پنير، آيسكريم.

ويتامينها را بيشتر در ميوه جات ستروس ، نباتات سبزبرگ ، كچالو و غيره ميتوان دريافت . جهت مرفوع نمودن حوايج عضويت از نگاه مايعات مي توان از عصاره ميوه جات عصاره تركاري باب و ديگر نوشابه ها استفاده نمود.

پروتين جهت نموي انساج جنين ضروري است، يك خانم بار دار بايد روزمره مقدار ٧٦ گرام پروتين اضافه تر از ديگران اخذ نمايد، يعني حدود ٢٧٠ گرام پروتين در هر روز اخذ كند.

كلسيم مي تواند سهم ارزنده در نمو و انكشاف دندانها و استخوانهاي جنين بگيرد. اين خانمها بايد روزمره حدود چهار گيلاس شير بنوشند البته خانمهاي كه سن شان جوانتر است يعني حدود سنين ١٥-٢٠ سالگي بايد مقدار بيشتر شير را اخذ كنند، زيرا نشو نموي بدن خود شان نيز هنوز كامل نشده است.

آهن براي ساختن هيموگلوبين بسيارمهم است. البته هيموگلوبين ماده ايست كه در حجرات سرخ خون وجود داشته وجهت انتقال آكسيجن به انساج بدن بكار مي رود. بر علاوه در حالت حاملگي وجود جنين نيز به مقدار بيشتر آكسيجن ضرورت دارد. به اين خاطر بايد حتي قبل از گرفتن حمل كوشش شود تا ذخاير وجود از نظر آهن اكمال گردند بر علاوه اين خانمها بهتر است در جريان حمل مقدار ٢٠٠ ملي گرام آهن البته با مشوره داكتر روزانه اخذ نمايند. Folic acid و Py-ridoxin دو نوع ويتامين B است كه در اثنا حاملگي ضرورت آن بيشتر مي شود Folicacid در ماه هاي اول بارداري مهم بوده، هر دو نوع ويتامين جهت تكامل سيستم عصبي جنين بسيار مهم هستند فقدان آن مي تواند باعث سوء تشكلات ولادي گردد.

گرفتن تابليتهاي ضد حمل مي تواند باعث تخريب بيشتر اين ويتامين ها در وجود زنان شود و پرابلم هاي بعدي را در زمان حاملگي بوجود آورد. بهتر است به قسم تابليتهاي تهيه شده در بازار تجارت از آن استفاده نمود.

تحقيقات اخير نشان ميدهد كه هيچ نوع ضرري در نوشيدن مقدار متوسط مايعات كافين دار مثل قهوه، چاي يا مشروبات غيرالكولي وجود ندارد اما عاقلانه خواهد بود مقدار مصرف روزانه آنرا به ٣-٤ گيلاس در روز تقليل دهيم.

## داسهال ضد واکسین

ښایی داسی یوه ورځ راشی چی خلک د ځینو خاصو اصلاح شویو سبو یا میوو په خوړلو سره خانونه له یو شمیر ناروغیو نه خوندی وساتی.

په دی نږدی وختو کی د کازتا د پوهنتون عالمانو کچالو ته داسی پروتین داخل کړی چی د نارو د ویروس په پوست کی موجود دی.

دغه ویروس چی د انسان معدی ته داخل شی نو د اسهال په مرض یی اخته کوی کله چی دا کچالو چی د نارو د ویروس د پوست پروتین په کی شامل شوی وخوړل شی نو د انسان دبدن معافیتی نظام تحریکوی او د نوموړی ویروس په وړاندی یی ضد انتی بادی تولیدوی او په نتیجه کی دا ویروس په بشپړه توګه له منځه وړی او انسان په اسهال باندی له اخته کیدو نه ژغوری.

ډاکټران وایی چی له نورو واکسینو څخه چی پیچکاری کیږی دا ډول واکسین ډیر غوره دی ځکه چی له یوی خوا یی استعمال اسانه دی او له بلی خوا د ناپاکو پیچکاریو په وسیله په نورو ناروغیو د اخته کیدو مخه نیسی کیدی شی چی دغه ډول واکسین لرونکی کچالو وچ کړی شی او په دی توګه واکسین تر زیاتی مودی پوری په کی وساتل شی.

ډاکټران وایی په پام کی لری چی په راتلونکی کی د غه راز واکسینونه په کیله کی هم تولید کړی.

## افریقایی مېرمنې د پرمختللو صنعتي هېوادونو د مېرمنو په پرتله د امیدواری په وخت کی زیاتی مری

د نړی د عامی روغتیا موسسی ویلی دی هغه مېرمنې چی په افریقایی هیوادونو کی ژوند کوی د هغو میرمنو په پرتله چی په پر مختللو صنعتی هیوادونو کی اوسیږی د امیدواری په وخت کی یی د مړینی امکان دوه سوه ځلی زیات دی .

د نړی د عامی روغتیا د موسسی عمومی مدیر د ناروی پخوانی لومړی وزیر ګرهار دلیم برنکلن ویلی دی : دا د نړیوالی عامی روغتیا هغه برخه ده چی د منځ پروډی او پر مختللو هیوادونو تر منځ خلا لا پسی زیاتیږی چی په دی کی مېرمنو ته په بی ساری ډول تاوان رسیږی ځکه چی د نارینه وو په پرتله دوی ته روغتیایی اسانتیاوی زر تر زره او په اسانی سره نه شی تر لاسه کیدلی خو د عامی روغتیا نړیوالی موسسی ویلی دی که په لوړه سطحه په روغتیایی چارو کی د پیسو لګولو ډمه ووهله شی په دی حالت کی به بدلون راشی.

# داصحابو دژوند پلوشي

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : یشار ۳۰

بیا ډیروخت لا نه و تیر شوی چی پیغمبر «ص» یثرب ته هجرت وکړ او په الله سوګند، چی زه د خپل بادار د خرماو پروتی په کار لګیا وم او بادار د خرماو د ونی لاندی ناست و چی یو ناڅاپه د تره زوی یی راغی او ورته یی وویل : الله دی بنی قیله هلاک کړی، په الله سوکند، دوی اوس په قبا کی پریوه سړی چی له مکي څخه راغلی اوځان پیغمبر ګنی را ټول شوی دی.

څنګه چی ما د هغه خبره واوریده نو ماته د تبی په شان د ناکراری حالت پیښ شو تر دی چی وویریدم نه چی د خپل بادار دپاسه ولویږم ، نو زه ژر په کوزیدلو شوم او راغلی سړی ته می وویل : ته څه وایی ؟ ته دی خبره ماته هم وکړه .

په دغه وخت کی بادار په قهر شو او د سوک سخت ګذار یی را کړ او راته یی وویل : ددغه کار سره ستا څه ؟ ته خپل کار وکړه .

کله چی شپه شوه نو ما د ځان سره و چه خرما چی ټوله کړی مې وه واخیستله او هغه ځاي ته چی هلته پیغمبر «ص»وو،لاړم، او هغه ته ورغلم او ورته می وویل : زه خبر شوی یم چی ته یو نیک سړی یی او ستا ملګری غریبان او محتاجان دی او دا د صدقی مال دی او تاسی می د نورو په نسبت ددی ډیر مستحق ولیدلی، بیا ما خرما ور نږدی کړه، او هغه خپلو ملګرو ته وویل : وخوری. ولی هغه له خوړلو څخه لاس ونیو، نو ما پخپل زړه کی وویل چی دا یوه شوه .

بیا زه لاړم اودخرما په ټولو لوشوم. کله چی پیغمبر «ص» له قبا څخه مدینی ته لاړ نو بیا زه ورغلم او ورته می وویل : ما ولیدلی چی ته صدقه نخوری نو دا دی تاته می خرما هدیه راوړی ده .

بیا هغه له خرما څخه وخوړه، او هم یی خپلو ملګرو ته د هغی د خوړلو امر وکړ.

بیا ما پخپل زړه کی وویل چی دا دویمه شوه .

بیا زه الهی پیغمبر ته ورغلم، او هغه په دغه وخت کی په بقیع الغرق کی و اود خپلو ملګرود یوه تن په ښخولو مشغول و هغه ناست و او پر ځان باندی یی دوه څادرونه و نو ما پر هغه باندی سلام وکړ او بیا د هغه شاته شوم څو هغه مهر چی ماته د عموری خاوند د هغه یادونه کړی وه ووینم.

کله چی ماته د پیغمبر «ص» نظر شو او زما په غرض پوه شو نو خپل څادر یی له شا څخه وغورځاوه، او بیا ما هغه مهر ولید او د هغه په ښکلولو شوم او ژړا راغله .

بیا رسول الله «ص» وویل : ستا خبر څه دی ؟

بیا ما هغه ته خپله کیسه وکړه او هغه ورته په تعجب کی شو، او خوښه یی شوه چی زما کیسه د هغه ملګری هم واوری.

بیا ما هغوی ته خپله کیسه وکړه او هغوی ورته په تعجب کی شول او پری ډیر خوشحال شول.

سلام دی وی پر سلمان الفارسی چی په هر ځای کی یی د حق پلټنه کوله .

سلام دی وی په سلمان الفارسي له هغی ورځی څخه چی په کی یی حق وپیژنده او وریاندی یی قوی ایمان راوړ.

سلام دی وی په هغه باندی چی کومه ورځ مړ شو او په هغه ورځ چی په کی ژوندی راپورته کیږی.

د سلمان الفارسی په باب د زیاتو معلوماتو لپاره دغه کتابونه ووینه :

١- الاصابة ( ط السعادة) ٢ الاستيعاب ( ط حيدر آباد )٣- الجرح والتعديل : ٤- اسد الغابة ٥- تهذيب التهذيب ٦- تقريب التهذيب.

٧- الجمع بين رجال الصحيحين :

پاتي لري

## ا.ا.ا در رابطه به محو و نابودي مواد ...

گرفته است.

مؤرخ ۱۴۲۱/۷/۲۲

در این اواخر معین وزارت خارجه ایالات متحده امریکا با همتاي روسي خویش در رابطه به شدت تعزیرات بالاي مردم افغانستان و بدست آوردن نتیجه آن با هم ملاقات و مذاکره نمودند.

وزارت خارجه امارت اسلامي در حالیکه این دیدار و گفتگو ها را جداً محکوم نموده مي افزاید که سران کرملین و قصر سفید همیشه واقعیت ها و حقایق را در نظر نمي گیرند و با استفاده از سلاح کهنه و فرسوده یعني نقض حقوق بشر حقوق زن و موضوع مواد مخدر مفاد لفظي را بدست مي آورند. و اذهان جوامع بین المللي را در مورد ا.ا.ا مغشوش میسازند این چنین کشور ها که خود را بانیان و مدافعان حقوق بشر مي شمارند تبلیغات منفي و مغرضانه آنان اثرات منفي را درآینده به جا خواهد گذاشت.

همچون آفتاب روشن است کشور هایي که خود را مدافعان حقوق بشر مي دانند امروز در مسئله فلسطین و اسرائیل از حق نارواي خویش که وسیع است به اسرائیل اجازه میدهند تا به کشتار دسته جمعي فلسطینیان دست بزنند. کسانیکه داراي عقل سلیم میباشند به خوبي مي دانند که هرگام و اقدام مستکبرین چه اهداف شوم و ناپاك را در قبال دارد. امروز جهانیان مي فهمند که ا.ا.ا در رابطه به محو و نابودي مواد مخدر چه تلاش هاي وسیعي را به راه انداخته است که فرمان اخیر عالیقدر امیر المومنین در این راستا ثبوت و وضاحت کامل دارد.

جهانیان آگهي دارند که زنان افغان نسبت به هر وقت دیگر از مصؤنیت و عزت کامل برخوردار بوده و آنان مثل یك زن مسلمان و افغان با وقار زنده گي نموده و حیثیت و حقوق آنان نسبت به هر زمان دیگر محفوظ میباشد و این تماماً از برکت صدور و تطبیق فرامین عالیقدر امیر المومنین میباشد.

اینکه نماینده گان امریکا و روسیه ادعا میکنند که طالبان با امریکا و کشور هاي اروپایي به مذاکره حاضر نیست یك اتهام و ادعاي بي مورد است ا.ا.ا همیشه در هر جا با هر کس حاضر به مذاکره میباشد که در تعداد زیاد کنفرانس ها و دیدار ها اشتراك نموده و باز هم باب مذاکره رابا هر کس باز گذاشته است اما همین ها اند که به گونه غیر منصفانه دروازه را بسته اند بناً وزارت امور خارجه ا.ا.ا از دولت هاي امریکا و روسیه جداً مي طلبد که در مورد مسایل افغانستان از قضاوت بیطرفانه کار گیرند و از تصامیم عجولانه خویش در مورد مردم افغانستان که جنگ هاي چندین ساله آنان را آزرده است بیش از این بر فشار خویش نیفزایند و به جفا ها و مداخلات خویش نقطه پایان بگذارند.

## هیئت ستره ...

سمنگان، بغلان، کندز و تخار و محاکم همه ولسوالي هایي ولایات متذکره رهسپار گردیدند.

در نظر است هیئت موصوف در جریان باز دید و بررسي محاکم از اهلیت و شهرت قضات، نحوه کار و اجراات در محاکم و چگونگي برخورد پرسونل قضایي با مردم معلومات کامل و مفصل را حاصل نمایند تا بخاطر بهبود امورات و رفع مشکلات دربخشهاي مختلف اقدامات جدي و عاجل بعمل آید.

## تدویر جلسه ...

داکتر عبدالواسع عزام معاون آن جمعیت ضمن سخنراني موسسات خیریه ملي و بین المللي را به وظایف و مکلفیت هاي بشري شان متوجه ساخته نقش آنانرا در جهت دستگیري از مستمندان و کاهش آلام مردم مصیبت رسیده موثر خواند.

سپس پیام عالیقدر امیر المومنین توسط محترم ملا قطب الدین معاون مالي سره میاشت قرائت گردیده گزارش فعالیت هاي یکساله این نهاد خیریه ارائه گردید.

متعاقباً محترم غلام سرور مومند دایرکتر جنرال موسسه آسیا به نماینده گي از موسسات خیریه سخنراني نموده و مبلغ ده ملیون افغاني را نقداً باین کانون بشر دوست مساعدت نمود.

## حکم الهي قصاص ...

بعد از فیصله محاکم سه گانه و تایید عالیقدر امیر المومنین پربروز در محضر صد ها تن از هموطنان ما در چمن شاروالي شهر کندز قصاص گردید.

در اجتماعي که بهمین منظور تدویر یافته بود محترم مولوي عبدالغفور امین رئیس محکمه نظامي ولایت کندز محترم مولوي نور الدین قاضي محکمه نظامي، محترم مولوي سلطان محمد رئیس اطلاعات و کلتور و محترم مولوي عبدالمنان یوسفي رئیس امر بالمعروف و نهي عن المنکر در رابطه به مجادله با مفسدات و جنایات صحبت نموده اقدامات امارت اسلامي را در راستاي رفع مفاسد اجتماعي ستودند.

بعداً حکم الهي قصاص توسط ورثه مقتول بالاي قاتل تطبیق گردید.

## فرانسي له امریکا...

**بهر ته د افغانستان د اسلامی امارت د چارواکو په سفر باندی د امریکا او روسیی لخوا د لگول شوو بندیزونو په اړه د فرانسی د هیواد شارژدافیر ښاغلی بختول وویل: د فرانسی حکومت بهر ته د افغانستان د اسلامی امارت د چارواکو د سفر په باب د بندیز لگولو په اړوند د امریکا او روسیی د حکومتونو له نظر سره موافقه نلری.**

**هغه وویل: ددغو بندیزونو ناوړه اغیزي د افغانستان عامو خلکو ته زیاتی متوجه دی کوم چی د شل کلنی جگړی په مصیبتونو بر سیره روانی وچکالی هم سخت ځپلی دي وروسته په اسلام آباد کی د افغانستان د اسلامی امارت محترم سفیر وویل: اسلامی امارت د نړی له ټولو هیوادونو سره د هغو ټولو مسئلو په باب چی له محمدی غرا شریعت سره مخالفت ونه لری همکاری ته تیار دی هغه دا هم وویل: چی په افغانستان کي سراسري سوله د ټولي نړي په گټه ده همدانگه په دي کتنه کي د دواړو هیوادونو تر منځ د مربوطو مسئلو او د امریکا او روسیی د حکومتونو د وروستی ابلاغیی په هکله اوړدی خبری وشوی.**

## د ازبکستان د بهرنیو

**ددی هیواد د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی کاملوف ویلی: د ازبکستان جمهوریت دی ته تیار دی چی د افغانستان له اسلامی امارت سره د ښه نیت له امله د دواړو هیوادونو تر منځ د حیرتان پل بیا پرانیزی.**

**هغه دا هم ویلی چی په دی بر سیره د ازبکستان جمهوریت حاضر دی چی د افغانستان له اسلامی امارت سره په تجارتی او نورو اقتصادی** برخو کی گډ روابط ولری

**ښاغلی کاملوف ویلی زمونږ دغه اقدامات به هغه وخت نور هم گړندی شی چی د اسلامی امارت له لوری د ښه گاونډیتوب او زمونږ او د سیمی د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کی د هغوی د نه لاس وهنی داډ راکړ شی. د** یادونی وړ ده چی د ازبکستان په سیاسی موقف کی دا بدلون په داسی حال کی رامنځته کیږی چی د اسلامی امارت ځواکونه د هیواد په شمال کی د مخالفینو په **وړاندی د قدر وړ لاس ته راوړنی لری.**

## یك واحد نظامي...

گذاشتند این نخستین بار است که رژیم صهیونیستي دست به چنین تخلفات سرحدي زده است.

## یك تعرض ناکام ...

دشمن شکست خورده و زبون خسارات زیادي مالي و جاني از سوي مجاهدین اردوي اسلامي وارد گردید منبع افزود: همین اکنون اجساد تعدادي از این فروخته شده گان در میدان جنگ باقیمانده و حتي دشمن توانایي انتقال اجساد کشته شده گان شانرا نداشتند.

طبق یك خبر دیگرد شمنان صلح و آرامش ملت افغانستان حوالي ساعت دوازده بجه پریشب گذشته بر استحکامات و مواضع مجاهدین اردوي اسلامي در ساحات شاغ پلنگ ولته بند ولایت تخار نیز دست به تعرضات ناکام نظامي زدند که در اولین دقایق این تعرضات دشمن از سوي مجاهدین اردوي اسلامي خنثي و عقب زده شد درین تعرض به شمول یك تن از قوماندانان مخالفین تعداد زیادي از افراد مسلح مخالفین کشته شده و اجساد آنان تا اکنون در میدان نبرد باقیمانده است.

در این تعرض تعدادي از افراد مسلح مخا[illegible]ین نیز به اسارت مجاهدین اردوي اسلامي افتاده اند.

منبع افزود: هدف اساسي مخالفین ا.ا.ا را درین تعرضات تخریب پروسه صلح تشکیل میدهد که از سوي سازمان ملل متحد راه اندازي گردیده است. مخالفین ا.ا.ا به اشاره بیگانگان همیشه خواسته اند خلاف منافع ملي مردم افغانستان عمل نمایند و به اینگونه خدمتي به بادار[illegible] شان انجام دهند.

منبع افزود: مجاهدین اردوي اسلامي با مورال عالي رزمي باصردي و رشادت بي مثال اماده گي دفع و طرد هرگونه حمله هاي احتمالي دشمن را دارند.

## سفیر ا.ا.ا مقیم ...

مظالم اسرائیل علیه فلسطینیان صحبت نموده اعمال ظالمانه اسرائیلي ها را محکوم نموده و حمایت خویشرا از مبارزه بر حق ملت فلسطین اعلام نمود.

بعداً محترم احمد عبدالرزاق سفیر کشور فلسطین از غیرت و جهاد برادران مسلمان افغانستان توصیف بعمل آورده و از موقف امارت اسلامي افغانستان در رابطه به داعیه برحق ملت فلسطین تمجید بعمل آورد.

## مجمع عمومي سازمان...

کمیسیون مذکور نیز در جواب به تقاضا هاي کشور هاي عربي بحران اخیر شرق میانه را تحت بحث و بررسي گرفته است.

## د جامع مسجد د ...

جوړ شوی دی په یو وخت کی پنځه سوه تنه لمونځ کوونکی پکی ځاییږی ددغه جامع جومات په جوړولو کی د اوداسه ځای په جوړولو سر بیره نور ضروری ملحقات هم په پام کی نیول شوی دی.

## په سومالیا کي ...

حسن په وړاندی د وفا داری لوړه وکړه

د سومالی د کابینی غړی ددغه هیواد له بیلا بیلو قبیلو او طایفو څخه ټاکل شوی دی.

دا په داسی حال کی دی چی جنگ سالارانو نوی کابینه په رسمیت نه ده پیژندلی د سومالی هیواد په ۱۹۹۱ میلادی کال کی ددغه هیواد د جمهور رئیس محمد صیاد باری له راپرځیدو وروسته مرکزی حکومت نه درلود.

## پر فلسطینیانو ...

**کمیسیون خاصی غونډی** وړمه ورځ د شپاړسو مخالفو رایو په وړاندی په ټولسو موافقو رایو سره هغه پریکړه لیک تصویب کړ چی د عربی هیوادونو له خوا وړاندی شوی و د امریکا متحده ایالاتو او یوشمیر اروپایی هیوادونو او اسرائیلو له دغه پریکړه لیک سره مخالفت وکړ.

**په پریکړه لیک کی اسرائیل دفلسطین په نیول** شویو سیمو کی د بشر له حقوقو څخه د سرغړونی له امله په کلکه غندل شوی دی. په عین حال کی د سوریی د بهرنیو چارو وزیر له عربی هیوادونو څخه غوښتنه کړی ده چی له اسرائیلو سره د خپلو اړیکو د عادی کولو **بهیر ودروی.**

## دیپلوماتیکي ...

**غونډه پرون د جنوبی کوریا په پایتخت سیول کی پیل شوه.**

**د المان صدراعظم گیر هارد شرو ډر هم څو ساعته وروسته اعلام وکړ چی هیواد یی په پام کی لری چی له شمالی کوریا سره رسمی** اړیکی ټینگی کړی د المان صدراعظم وویل دغه اقدام به په نړدی راتلونکی کی تر سره شی د انگلستان او المان هیوادونه په وار سره دویم او دریم اروپایی هیوادونه دی چی په روان میلادی کال کی پیونگ یانگ سره د سیاسی **اړیکو د ټینگولو اقدام تر سره کوی.**

## د خصوصي سکتور د ترانسپورت په عوایدو کي ...

**د خصوصی سکتور ریاست د روان کال د لومړیو شپږو میاشتو اجراات او فعالیتونه وړمه ورځ د ترانسپورت د لوی رئیس محترم مولوی عبدالعزیز نصیر په مشری او د خصوصی سکتور د ترانسپورت د رئیس محترم ملا عبدالخالق فیصل او ددغه ریاست د کارکوونکو او د ترانسپورتی موسسو د سرو الانو پهگډون وړمه ورځ ددغه ریاست په مقر کی د یوی غونډی په ترڅ کی وڅیړل شول.**

**د خصوصی سکتور د ترانسپورت ریاست د روان کال د لومړیو شپږو میاشتو په رپوټ کی چی ددغه ریاست د یو تن مامور محترم اسد الله له خوا ولوستل ش[illegible]ل شوی دی په دی ترڅ کی چی په ښه توگه د انتقالاتی چارو د تنظیم او د انتقالاتو د بهیر د چټکتیا په برخه کی لازم تصمیمونه نیول شوی او د باروړونکو اتحادیو له یو شمیر سروالانو سره غونډی جوړی شوی دی د تیر کال په بهیر کی دری زره پنځه سوه ملیونه ټنه انفرادی او تجاری مالونه د خصوصی سکتور برخی ته ورکړ شوی و چی په سلو کی دوه نوی یی لیږدول شوی دی او د روان کال په بهیر کی د څلور زره ملیونه ټنه مالونو پلان ورکړ شوی دی چی له دی جملی څخه په پنځو میاشتو کی په سلو کی پنځه نوی یی تحقق موندلی دی.**

**په تیر کال کی د پنځلس اعشاریه شپږو ملیونو مسافرانو د لیږدونی پلان ورکړ شوی و چی په سلو کی دری نوی یی تطبیق شوی دی او په روان کال کی د یوولس اعشاریه شپږو ملیونو تنو مسافرانو د لیږدونی پلان ورکړ شوی و چی تر اوسه پوری په سلو کی پنځه نوی یی تحقق موندلی دی چی د تیر کال د پنځو میاشتو په پرتله په عوایدو کی څه د پاسه دوه ملیارده افغانی زیاتوالی راغلی دی.**

**دغه راز په افغانستان کی د بهرنیو موسسو او د نورو خیریه موسسو مالونه هم د یو زرو اووه سوه شپیتو موټرو په واسطه کابل او د هیواد نورو ولایتونو ته لیږدول شوی دی چی د ترانسپورتی کمیشن له پلوه اسلامی امارت ته د څه د پاسه لسو ملیاردو افغانیو عاید تر لاسه شوی دی. په دی رپوټ کی ویل شوی دی چی د خصوصی سکتور د ترانسپورت ریاست د پاکستان د پیښور او کویټی په ښارونو کی دوه نمایندگی لری چی د صادراتی او وارداتی مالونو په لیږدونه کی لازمی اسانتیاوی برابروی او د ایران د مشهد په ښار کی ددی ریاست نمایندگی د تعلیق په حال کی دی او فعالیت نه کوی.**

**د خصوصی سکتور د ترانسپورت ریاست د هیواد په سطحه پنځه سوه شپاړس تنه کار کوونکی لری.**

**ددغه ریاست د کار او فعالیت رپوټ د ترانسپورت د لوی رئیس محترم مولوی عبدالعزیز نصیر له خوا مثبت وبلل شو او د خصوصی سکتور د ترانسپورت د ریاست د منسوبینو پاملرنه د هیواد خلکو ته زیات خدمت ته واړول شوه او څو تنو د نورو په نمایندگی ژمنه وکړه چی خلکو ته د خدمت په لاره کی له هیڅ راز هلو ځلو څخه ډډه نه کوی.**

**د خصوصی سکتور د ترانسپورت رئیس محترم ملا عبدالخالق فیصل د باختر د اطلاعاتی آژانس خبریال ته وویل: د ښاری مسافر وړونکو خدمتونو تر سره کول هم ارزښتناک رول لری او د ښاری ترانسپورت د چارو د لا ښه تنظیم په لاره کی د مسافر وړونکو وسایطو د سروالانو د همکاری په جلبولو او د دایمی استیشنونو په جوړولو او د گرځنده ډلو په رامنځته کولو سره کنترولیږی.**

**دغه راز د ښاری کرایی نوی لایحه د موظف کمیسیون تر نظر لاندی او د اړوندو ادارو د استازو او سروالانو په گډون تصویب او اعلام شوی دی چی باید د ترافیکو** ریاست یی تطبیق او عملی **کړی.**

| د کوون بیه له هیواد نه بهر | | |
|---|---|---|
| ملك | شپږ میاشتنی | کلني |
| پاکستان | RS200 | RS400 |
| دخلیج هیوادونه | SR.150 | SR.300 |
| اروپا او امریکا | USS75 | USS150 |

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press